ګرځنده ټولنې

د خنډونو پرته ګرځیدنه

"زه ګرځنده یم"

د بس، ریل او ټرام لخوا په ټاپرول کې سفر کوم

د کډوالو لپاره معلومات

www.mobilitaetohnebarrieren.at

Pashtu

گرځنده ټولنې

د ځنډونو پرته ګرځېدنه

محتويات

4 د معلوماتو مرکزونه او انټرنټ - هغه معلومات چې تاسو ورته اړتيا لرئ تر لاسه کړئ
8 ټکټونه او بيې - د سفر کولو نه مخکې لګښت وپيژنئ
15 کمښتونه او تخفيف - د ارزانه سفر څخه خوند واخلئ
17 مهال ويش او د لار نقشه – سم بس او ريل ومومئ
19 د بس او ريل کارولو لپاره نخښې/ لارښوونې – هر هغه څه چې تاسو يې پوهه ته اړتيا لرئ
20 بايسکل چلول– د روغتيايي انتخاب، د IVB، VVT او ÖBB لخوا ملاتړ شوی

آسانه ګرځښت - د دغه سمبولونو سره

لاړ شئ او
پوښتنه وکړئ

دا د عصري ټيکنالوژۍ
سره اسانه ده

مرستندويه
اشاره/ټپ

د پيسو
بچ کولو يوه لاره

نور معلوماتو پدې www.vvt.at/konkret يا په ترکيه کې پدې www.vvt.at/tuerkisch کې هم شتون لري.

دا معلومات فولدر په
المان، ترکي، عربي، پښتو او فارسي کې هم شتون لري.

IVB INNS' BRUCK POSTBUS ÖBB VVT

د 'ځنډونو پرته ګرځېدنه' يو ګډه پروژه ده چې د
کلمباوند نيز ټېرول، اوکينوستيټې الټو ادېج ، د ټاېرول
ولايت، او اتونومس د الټو ادېج ولايت لخوا چلولې کېږي.
دا د اروپا فنډ د سيمه ييزو پراختيا لپاره د ' IV A انټريج '
د اټالي - استريا ' لخوا تمويل شوی ده او د ټاېرول د سيمه ييز سياليتوب
د زياتولو لپاره د 2007-2013 'د تنوع له پياورتيا' پروګرام برخه ده.

په ټاېرول کې هر څوک باید عامه ترانسپورټ ته بې خنډه آزاد او مستقیم لاس رسی ولري، لکه څنګه چې دا مونږه ټول د نرمښت وړ، خپلواکه او اقلیم دوستانه ګرځیدنه سره برابروي کوم چې د یووالي یا انضباط په ودې کې هم مرسته کوي. د ټاېرول ولایت په ټاېرول کې د عامه خوځښت دوامداره پرمختیا یو مهم هدف ګڼي. د خلکو لپاره چې د مهاجرت شالید، کلتوري توپیرونه او حقیقت دا دی چې دوی په مورنۍ بیلا بیلو ژبو سره خبرې کوي کله چې دوی عامه ترانسپورت کاروي اکثر لوی ننګوني وړاندې کوي. د معلوماتو د فولډر موخه دا ده چې د اضافي علم زده کړې او معلوماتو په چمتو کولو کې مرسته وکړئ کم چې په بس، ریل یا ټرام کې د سفر کولو ته اړتیا لري.

انګرډ فلپ
د والي مرستیال او د ترانسپورت لپاره د ولایتی وزیر

کرستین بایور د سیمه ییز حکومت غړی
د تولنیزو چارو او یووالي مسؤولیت لري

د ټاېرولین عامه ترانسپورت شبکې ته ښه راغلاست!

ستاسو سره ستاسو منزل ته په چټکي، خوندي او څومره په ارزانه توګه ممکن وي د رسولو مرستی لپاره، مونږه دا فولډر جوړ کړي چې په ټاېرول کې د بسونو، ریلونو او ټرامونو په اړه تر ټولو مهمه معلومات لرئ.

په ټاېرول کې ټول عام ټرانسپورټ د VVT (ورکېرسوربد ټېرول) اتحادیي له خوا همغږی شوي – پرته د انسبرګ (اصلي زون) کې. **VVT** د ټولو مهال ویشونو او بیو لپاره مسؤولیت لري. دا لپاره د اړیکو او د ټکټونو سره د اړوند پوښتنو د تماس مرکزي ټکی دي. په انسبرګ کې، د IVB تعرفې د IVB، د ښاروالی اداره او IKB لخوا ترتیب شوي.

خو، ډېری شرکتونه شتون لري چې بسونه، ترامونه او ټرینونه چلوي. اصلي دا دي:

IVB : انسبرګر ورکیرسبتریبی په انسبرګ کې بسونه او ټرامونه چلوي.

پوسټبس : پوسټبس په ټاېرول کې تر ټولو لوی بس شرکت دی. داسې نورو بسونو شرکتونه هم شته دي چې په ټاېرول کې سیمه ایز بسونه او سیمه ایز ټیکسیاني چلوي.

ÖBB : د استرین فدرالي ریلوېز په استریا او البته ټاېرول کې هم چلوي.

موږ ستاسو په ټاېرول کې د عامه ترانسپورت سره خوندي او خوشحال سفر غواړو!

د معلوماتو مرکزونه او انټرنیټ –
هغه معلومات ترلاسه کړئ چې تاسو ورته اړتیا لرئ!

VVT – ورکرسوپرېند ټېرول

د VVT پیرودونکي مرکزونه په ټاپرول کي د بس، ټرام او ترینونو په سفر په اړه ټول معلوماتونه، سره د مهالویش، ټکټونو او د کمښتونو په اړه چمتو کوي. مرکزونو ته ولاړ شی چې ستاسو د پوښتنو ځواب درکړئ!

په انسبرګ لوې سټیشن کې د پیرودونکي مرکز
Sterzinger Straße 3 A-6020، انسبرګ
ټیلیفون شمېره: 16 16 56 512 (0)43+
خدماتو ټیلفون: دوشنبه – جمعه سحر 8 تر غرمه او غرمه 1:30 بجو تر مازیګر 5:30 بجو پوری
د پرانیستلو وخت: دوشنبه – جمعه سحر 10 بجو تر ماذیګر 4 بجو پوری

په راوتې سټیشن کې د پیرودونکي مرکز
Bahnhofstraße 21 A-6600 Reutte,
ټیلیفون شمېره: 165 71 5672 (0)43+
د پرانیستلو وخت: دوشنبه – جمعه سحر 10 بجو تر غرمه 4 بجو پوری

انټرنیټ
ای میل: info@vvt.at
www.vvt.at (د مهال ویش او قیمتونو په اړه معلومات)

د سمارټ فون اپ
د VVT سمارټ رائډ ایپ په ټوله استریا کي د ټول بس / ترین / ټرام اړیکو ځانګړتیاوي وړاندي کوي

SmartRide

لاندني ټرانسپورټ شرکتونه د ترانسپورټ او د چلوونکو وسیلې، سره د هغو سیمو په اړه معلومات چې دوی ورته خدمات وړاندې کوي معلومات چمتو کوي:

IVB – انسبرګر ورکسبترائب

IVB بسونه او ټرامونه په انسبرګ (اصلي زون) کې چلوي. په انسبرګ (اصلي زون) کې، ټول سفرونه یو اندازه لګښت لري – د وخت ډیر والی هیڅ فرق نه کوی. د مهالویش، ټکټونو او د کمښت په اړه معلومات د IVB د پیرودونکي مرکز څخه یا پدې www.ivb.at کې شتون لري.

د IVB پیرودونکی مرکز
Stainerstraße 2، A-6020 انسبرګ
ټیلیفون شمېره: 500 07 53 512(0) 43+
د پرانیستلو وخت: دوشنبه – جمعه سحر 7:30 بجو تر غرمه 6 بجو پورې

انټرنیټ
اي میل: office@ivb.at
www.ivb.at

د سمارټ فون اپلیکیشن
IVB - سکاؤټ او - IVB ټکټ شاپ

ÖBB
د آسټریایی فدرالي ریلوي

د ټرین سفر، مهالویش او قیمتونو د ټولو اړخونو په اړه د معلوماتو لپاره، د انسبرګ لوی سټیشن کي د سفر مرکز یا په ټولو لویو سټیشنونو کي د معلوماتو میزونو ته لاړ شئ:
انټون ایم ارلبرګ (د ژمی په موسم کی هم خلاصه وي)، او په ټېرول کی Landeck, Ötztal, Seefeld, Jenbach, Wörgl, Kufstein, Kitzbühel او St. Johann؟

د انسبرګ لوي سټیشن کي د سفر مرکز
هره ورځ د سهار له 6:30 بجو څخه د ماذیګر تر 5 بجو پوري د ټکټ خرڅلاو کیږي
د ÖBB پیرودونکو خدماتو تود لاین په ورځ کي 24 ساعته پرانیستي وي!
ټېلیفون شمېره: 17 517(0) 43+

انټرنیټ
www.oebb.at

د سمارټ فون اپلیکیشن
د ÖBB سکوتي (د مهالویش وړ معلوماتو لپاره)،
د ÖBB ټکټونه (د ټکټونو اخیستلو لپاره)

د بسونو /ریلونو / ټرامونو لپاره د ټکټ نرخونه

د ټولو ټکټونو بیې او کمښتونه(د کورنۍ، ماشومانو، لوړ اتباعو، زده کونکو او معیوبه خلکو لپاره) د **VVT تعرفې فولډر** کې موندل کیدای شي، سره د **IVB تعرفې فولډر** د انسبرګ لپاره ورته معلومات چمتو کوي. د تعرفې فولډرۍ د VVT او IVB د پیرودونکو مرکزونو او په ریل سټېشنونو کې شتون لري.

د اړیکو لپاره کرایه هم په انټرنټ کې په **www.vvt.at** او په **www.ivb.at** کې موندلی شئ. برسېره پردې، د VVT سمارټ رائډ اپلیکیشن د ټکټ قیمتونو په اړه معلومات وړاندې کوي.

مهمه اطلاع: VVT د ÖBB څخه د وېرټلسکارډ ریل کاردونو په اړه هیڅ معلومات نه لري. که چیرې تاسو د ÖBB وېرټلسکارډ یو کلاسیک، کورنۍ یا جوګند لرئ او غواړئ د خپل د ټرین د ټکټ بیه/قیمت معلوم کړئ، لطفاً د ÖBB ویب پاڼه ته پدې **www.oebb.at**. ولاړ شي. د وېرټلسکارډ په اړه د ټولو معلوماتو لپاره، د ÖBB هاټلاین ته پدې 17 517(0) 43+ ټېلیفون وکړئ.

د VVT ویب پاڼه د اړیکو او د ټکټ قیمتونو په اړه ټول معلومات وړاندې کوي.

د ټرین د ټکټونو لپاره بیې

د ټولو ټکټونو بیې او د کمښت په اړه معلومات (د ÖBB وېرټلسکاردِ او نور وړاندیزونه) د ÖBB ویب پاڼه پدې **www.oebb.at** کې شتون لري. د خپل تلو سټیشن او د خپل منزل ته داخل شئ، بیا د پایلو په لیست کې د 'ټکټونو او بیو' باندې کلیک وکړئ. په بله پاڼه کې، تاسو د ÖBB وېرټلسکاردِ سره د ټکټ ټیټه بیېه موندلي شي. تاسو سمدلاسه ټکټ آنلاین هم اخیستلي شي.



کوم ټکټونه موجود دي؟

یو ټکټ

دا ټکټ په یوه لور کي د یوي سفر لپاره اعتبار لري. مهمه اطلاع: د IVB شبکه کي، تاسو یوازي په 30 دقیقو کي نورو لینونو ته بدلون کولي شي.

د ورځ ټکټ

د ورځي ټکټ په یوه ورځ کي د لامحدود شمیر سفرونو لپاره اعتبار لري. مهمه اطلاع: په انسبرګ (اصلي زون) کي، یوازي 24 ساعته ټکټ شتون لري.

د 24 ساعته ټکټ

دا ټکټ یوازي په انسبرګ (اصلي زون) کي شتون لري. 24 ساعته ټکټ د 24 ساعتو لپاره اعتبار لري، د هغه وخت څخه پیل کیږي کله چي په عامه ترانسپورت یا د ټکټ په اړه د بیان شوي نیټي او وخت څخه تایید شي. دا په اصلي زون کي د لامحدوده شمیر سفرونو لپاره او تر هغه ورسته چي ټاکل شوي منزل ته ورسیږي پوری اعتبار لري.

د 8 سفر ټکټ

دا ټکټ یوازي د انسبرګ (اصلي زون) کي شتون لري. ټکټ د انسبرګ (اصلي زون) کي د اتو سفرونو لپاره اعتبار لري.

اوونیزه او میاشتنی ټکټونه

دا ټکټونه د صادریدو نیټي څخه د اونی یا د میاشت پوری اعتبار لري. لکه چي په ټکټ باندی نوم شتون نه لري، دا بل کس ته هم انتقال کیدای شي.

په انسبرګ کي د VVT ټکټونه د مسافرینو لپاره IVB ته بدلون موندلو لپاره به د سرباری لګښت سره پیرودلی شي!

جاهرس ټکټ لینډ او جاهرس ټکټ ریجن

د جاهرس - ټکټ لینډ (کلنۍ ولایتي ټکټ) په ټابرول او انسبرګ (اصلي زون) کې د عامه ټرانسپورټ (بس، ریل او ټرام) د ټولو ډولونو لپاره اعتبار لري. ټکټونه یوازې د یو کس لپاره اعتبار لري او نه انتقال کیدونکی وي. دا د اخیستلو د نیټې څخه د یو کال لپاره اعتبار لري.





د جاهرس ټکټ ریجن (کلنۍ سیمه ایزه ټکټ) د دوو ګاونډیو سیمو لپاره اخیستل کیدای شي چې د بس یا د ریل کرښې له لارې ټرل کیږي.

چیرته نه تاسو خپل ټکټونه اخیستلی شي؟

د ټکټ اخیستلو لپاره یو شمیر مختلفي لارې شتون لري:

ستاسو د بس چلونکي څخه: په داسې حال کې چې د IVB بسونو چلوونکي یواځې د دې توان لري چې یوګړي او د 8 سفر ټکټونه وپلوري، د انسبرګ څخه بهر سیمه ایزه بسونو چلونکي هم د ورځې، اونۍ او د میاشتني ټکټونه چمتو کولو توان لري (یادښت: په کرښه T او A، یوازې یوګړي او د 8 سفر ټکټونه شتون لري). د سیمه یزو بسونو چلونکي هم د ډیرو سیمو لپاره ټکټونه پلوري، حتی که بس هلته سفر هم نه کوي.

د نیولو/بک کولو دفترونو څخه: پدې کې د ریل سټیشنونه، د ÖBB سفر مرکزونه د ریل ټکټونو او ډیر د تمباکو پلرونکی شامل دي. په انسبرګ کې، د بک کولو دفترونه میاشتنی ټکټ پوری تر ټول ټکټونه چمتو کوي. ټول ټکټونه (د کلنی ټکټونو په شمول) د VVT او IVB پېرودونکی مرکزونو څخه شتون لري.

د ټکټونو ماشینونو کې: په ریل سټیشنو کې د ÖBB ټکټ ماشینونه، د IVB ټکټ ماشینونه او د لنډ پاتې کېدلو پارکنګ سیمې ماشینونو په ټول انسبرګ کې د ټکټ فعالیت سره، او په انسبرګ لوې سټیشن کې څلور VVT ټکټ ماشینونه.

آنلاین: د ÖBB ترین ټکټونه آنلاین اخیستل کیدی شي - په ساده ډول د ÖBB ویب پاڼه وګورئ پدې **www.oebb.at** او په ' Book ticket now" کلیک وکړئ.

ایپ: د IVB -ټکټ شاپ اپلیکیشن له لارې خپل د انسبرګ ټکټ په چټکه او اسانۍ سره وپلورئ. دا یقیني کوي چې تاسو تل خپل ګرځنده ټکټ ځان سره په خپل سمارټ فون کې لرئ. په متبادل توګه، تاسو کولی شئ چې ټکټونو آنلاین واخلئ او د ټکټ د دکان له لارې یې چاپ کړئ (ticketshop.ivb.at).

د IVB ټکټونه ارزانه وي کله چې د بکینګ دفتر څخه اخیستل کیږي، IVB -ټکټ شاپ (ایپ یا آنلاین ورژن) یا د ټکټ په ماشین کې! د وېرټلسکارډ کلاسیک، کورنۍ او جوګنډ لپاره ټکټونه ارزانه وي کله چې د ÖBB د ټکټ په ماشینونو کې واخیستلي شي!

مهمه معلومات: د IVB یوګړي ټکټونه، د 24 ساعتو ټکټونه او د 8 سفر ټکټونه باید په هر سفر کې په بس/ ترام کې اعتباري کړي. یواځې بیا به ټکټونه اعتباری وي!

کمښت او تخفیف ورکول –
د ارزانه سفر څخه خوند واخلئ!

ماشومان (د پنځلس کالو عمر پورې)، ځوانان (تر 20 کلنی پورې)، معلول خلک او لوړ پوړي وګړي په انسبرګ (اصلی زون) کي په یوګړي ټکټونو، **ورځنی ټکټونو او د -8 سفر ټکټونو کي تخفیف ترلاسه کولی شی** . ماشومان (د شپږو کال عمر پورې) د یو لاري مل سره وړیا سفر کولی شی (2 ماشومان د یو لاري مل سره به وړیا، سره د هر اضافي ماشوم لپاره ټیټ تعرفي چارج سره کولی شی). IVB د هغو کسانو لپاره کمښت ورکوي چې بنسټیز پوځي خدمتونه او بدیل ټولنیز خدمتونه ترسره کوي.

سچل - ټکټ او لهر - ټکټ او سچل پلس - ټکټ او لهر پلس - ټکټ د ښوونځي زده کونکو او شاګردانو لپاره د دوی د 24 کالو عمر پورې: د دغو ټکټونو غوښتنلیکونه په مستقیم ډول د ښوونځیو څخه ترلاسه کیدی شي او همدارنګه د VVT او IVB پیرودونکو مرکزونو کي هم سپارل کیدی شي. نور معلومات د VVT په ویب پاڼه پدی **www.vvt.at**. **کي د 'ټکټونو' لاندي شتون لري.**

سمستر - تر 27 کلونولاندي د زده کونکو لپاره ټکټ: د سمستر ټکټونه د ښار او / یا د سیمي لپاره شتون لري. غوښتنلیکونه د VVT او IVB پیرودونکو مرکزونو کي وړاندي کیدی شي. نور معلومات د VVT په ویب پاڼه پدي **www.vvt.at** کي د "ټکټ" لاندي او د IVB په ویب پاڼه پدي. **www.ivb.at** کي د 'ټکټونه / تعرفي' لاندي شتون لري.

Jahres-Ticket Senioren د 62 کلنی او پورته عمر لرونکي خلکو لپاره: د لوړ رتبه اتباعو لپاره د کلنی ټکټ سره، تاسو په بس، ټرام او ټرین لخوا په یو کال کي د ټاپرول په هر برخه کي – سره د انسبرګ (اصلي زون) او نابټ لاینرۍ کي سفر کولي شي. نور معلومات د VVT په ویب پاڼه پدي **www.vvt.at**. کي د 'ټکټونو' لاندي شتون لري.

کورنی – د ماشومانو سره سفر کول: د کورنی په توګه، تاسو د ټاپرول په هره برخه کي په ارزانه ټرین، بس او ټرام کي د سفر څخه خوند واخلئ. تاسو وړیا د ' ټپرول فیملین پار' ته اړتیا لرئ (د معلوماتو لپاره، دي ته ورشي **www.familienpass-tirol.at**).
د فیملین پاس ترلاسه کولو لپاره، تاسو به باید په ټاپرول کي یو باوري استوګن ته اړتیا لرئ مګر تاسو د تابعیت ثبوت وړاندي کولو ته اړتیا نه لرئ.

نور معلومات
د VVT په ویب پاڼه پدي
www.vvt.at، د VVT په آنلاین پدي
www.ivb.at، د IVB په تعرفی فولډر
کي او پدي **www.oebb.at** کي شتون لري،

IVB 'Sozialtarif': د ټاپرول په ښار کي خلک څوک چي د ماینډستچرنګ (اړتیاو پر بنسټ لرترلړه ګټه) ترلاسه کوي، د ټیټ نرخ لپاره میاشتنی ټکټ اخیستلي شي. د نورو معلوماتو لپاره د IVB د پیرودنکی مرکز ته ولاړ شي.

VVT Jahres-Ticket LAND SPEZIAL: که تاسو د تازه نیټي خبرتیا وښودلي چي دا ښکاره وي چي تاسو د Ausgleichszulage (مساوي ضمیمه) ترلاسه کوئ، تاسو د ټیټ نرخ لپاره کلنی ټکټ اخیستلي شي.

ÖBB Vorteilscard: ÖBB خپل ځان 'وېرټلسکارډ وړاندي کوي کم چي تاسو له په لږه خرچه په ترین کي د سفر وړتیا درکوي (په بسونو باندي اعتبار نه لري). د ÖBB وېرټلسکارډ 'جوګنډ' هر څوک چي د 26 کلونو څخه کم عمر لري، د "لوړ وګړي" نسخه د هر چا لپاره چي 62 یا پورته عمر لري لپاره شتون لري، د 'کورنی 'کارت د لاري مل څلورو ماشومانو د وړیا سفر کولو لپاره وړتیا درکوي حتی که دوی کارډ لرونکی ماشومان نه وي او او د "کلاسیک" اختیار د نورو مسافرینو لپاره خلاص دی.

ÖBB Vorteilscard 66: دا د ټیکټ په میز د اخیستلو نه د وېرټلسکارډ کلاسیک په آنلاین اخیستلو لږ لګښت لري. دا کارت کوم ځانګړي اړتیاوي نه لري او یوازي پدي tickets.oebb.at. کي شتون لري.

ÖBB SparSchiene: ÖBB د یو لړ ټکټونه هم وړاندي کوي کوم چي په ځانګړي توګه د کرایه وړ/ارزانه دي. دوی په محدودو شمېر کي شتون لري او یوازي د هغه ترین کي سفر کولو لپاره کارول کیدی شي چي د کوم ټکټ یي اخیستلی وي. د SparSchiene ټکټونه یوازي د لویو ښارونو ترمنځ د اړیکو لپاره شتون لري. د نورو معلوماتو لپاره، د ÖBB ویب پاڼه ته پدي **www.oebb.at** وګورئ.

ÖBB Gruppenticket: څومره د خلکو لویه ډله چي یوځای سفر کوي، دومره به دا ټکټ ارزانه کیږي – حتی د ډلو لپاره لکه وړه دوه. د ÖBB ګروپن ټکټ د ÖBB سره نه شي یوځای کیدی.

مهال ویش او د لار نقشه –
سم بس او ټرین ومومئ!

مهال ویش او کتابچه

د رخصتي وختونو په اړه معلومات د **مهال ویش کتابچه کي د VVT** څخه موندل کیدای شي (د ټولو کرښو لپاره شتون لري). د IVB په شبکه کي د هر کرښي لپاره وقف **کرښه فولډر** شتون لري. ټول مهال ویشونه د VVT او IVB پیرودونکو مرکزونو او د ریل سټېشنو کي شتون لري. د رخصتي وختونو ځانګړتیاوې په هره دکان کي د ننداري په بڼه هم دي.

لار نقشه

د لار نقشه ستاسو مرسته کوي چي تاسو د سټاپونو عمومي کتنه او د لینونو ترمینځ د بدلون لپاره خپل اختیارات ترلاسه کړئ. IVB د انسبرګ لپاره د لاري نقشه چمتو کوي، سره د VVT چي په ټاپرول کي د لویو ښارونو لپاره جاری کوي.

دا د VVT په ویب پاڼه پدې **www.vvt.at** کې شتون لري د 'سروسونو' او، بیا په 'ډاونلوډ' د کلیک کولو سره . د IVB لینونه د 'لاینز' نه لاندې پدې **www.ivb.at** کې موندلی شئ.

پر انټرنیټ د مهال وېش معلومات

تاسو د VVT په ویب پاڼه اړیکی کتلی شي (**www.vvt.at**)، IVB (**www.ivb.at**)، ÖBB (**www.oebb.at**) او پوسټبس (**www.postbus.at**) یا د سمارټ فون د یې له لاري. د دې معلوماتو د آنلاین د مرستې لپاره، پدې www.vvt.at/konkret وګورئ. دا مرسته په ترکیه کې پدې www.vvt.at/tuerkisch هم شتون لري.

ټکټونه او بېې –
د سفر نه مخکې خپل لګښت وپیژنئ!

په ټاېرول کې عامه ټرانسپورت په تعرفې سیمو ویشل شوی کم چې د ټکټ قیمت د محاسبه کولو لپاره کارول کیږي. د VVT ټکټونه په **بسونو، ریلونو او ټرامونو** باندې اعتبار لري. VVT د 'شهونو' په اساس تعرفه محاسبه کوي. VVT د 'شپږ څنډه' په اساس د تعرفې محاسبه کوي(= سیمې).

د ÖBB ټکټونه د ټاېرول په VVT شبکو کې د ټولو ډولونو ترانسپورت باندې اعتبارې دي. دا د ټیټ ټکټونو لپاره کار نه کوي کوم چې یوازې د ÖBB وېرټلسکارډ کلاسیک، کورنۍ یا جوګنډ سره اعتبار لري ، ځکه چې دا په ځانګړې توګه د ټرینونو لپاره کارول کیږي.

دا یوه زون ده:

دا د انسبرګ اصلي زون ده:

د زون پلان او مثالونه

په سیمه کې د یو زون دننه سفر.
د مثال په توګه: د Mils څخه Hall
پورې کرایه: ۱ زون

په سیمه کې د څو زونونو
له لارې سفر.
د مثال په توګه: د Inzing نه Völs
پورې کرای: 3 زونونه

د انسبرګ (اصلي زون) کې دننه سفر.
د انسبرګ (اصلي زون) کې دننه سفر. د مثال په توګه:
د Maria-Theresien-Straße نه تر
Schützen-Straße پورې کرایه: انسبرګ (اصلي زون)
پورې کرایه: انسبرګ (اصلي زون)

انسبرک ته/نه
(اصلي زون) پرته د بدلون سره یو سفر.
په انسبرک (اصلی زون)
کي سفر یوځل حساب کیږي (1 زون).
د مثال په توګه: د انسبرک (Innsbruck) نه
تر واټن (Wattens) پوری کرایه: 4 زونونه

د انسبرک (اصلي زون) له لارې سفر.
په انسبرک (اصلی زون)
کي سفر دوه ځله حساب کیږي (2 زونونه).
د مثال په توګه: د Völs نه
Hall پوری کرایه: 5 زونونه

د انسبرک نه/ته
(اصلي زون) د بدلونونو سره سفر.
په انسبرک (اصلي زون)
کي سفر یوځل حساب کیږي.انسبرک (اصلي زون)
اضافه چارج شامل ده.
د مثال په توګه: د Völs نه انسبرک، , ستبنستریب ته.
کرایه: 2 زونونه + په انسبرک کي بدلون (اصلي زون)

د " انسبرک په بدلون مهم خبرتیا: که تاسو د انسبرک څخه بهر سفر پیل کړئ او بیا باید په انسبرک کي په بله کرښه بدل شي، تاسو به باید د انسرک (اصلی زون) اضافي چارج ورکوئ.په انسبرک کي بدلیدونکی مسافرینو لپاره دا اضافه لګښت ستاسو د ټکټ سره د هر یو سیمه ایز بس موټر څخه به اخیستلي کیږي. که تاسو د ریل له خوا سفر کوئ او د انسبرک په ښارونو کي د بسونو کارول غواړئ، تاسو اضافی لګښت د تکټ ماشین څخه د خپل VVT ټکټ سره اخیستلي شي. په ټاپرول کي د ÖBB ټکټ ماشینونو کي، تاسو به د VVT ټکټ ترلاسه کړئ – پرته له دې چې د ÖBB د کمښت په صورت کي.

د انسبرک دننه سفرونو لپاره، تاسو په یو ټکټ باندې په 30 دقیقو کي دننه نورو لینونو ته بدلون کولي شي.

د بس او ریل کارولو لپاره نخښې/ لارښوونې – هر څه چې تاسو یې پوهې ته اړتیا لرئ!

پارک کول + سواری

که تاسو غواړئ چې خپل موټر په یوه ریل سټیشن کې پارک کړئ او په بس یا ټرین کې خپل سفر ته دوام ورکړئ، تاسو د پارک + سواری اسانتیاوې څخه کار اخیستلی شئ چې په ټاپرول کې شتون لري. هرڅوک چې د VVT کلنی ټکټ اخلي، په انسبرګ کې د VVT پیرودونکی مرکز کې به وړیا خرچه د پارک + سواری ټکټ ترلاسه کړي. که تاسو د یوه ورځ، اونی یا میاشتنی ټکټ واخلئ، نو تاسو به وړیا د پارک + سواری ټکټ په مستقیم ډول د ÖBB ټکټ د ماشین څخه پخپله ترلاسه کړئ. لاندنی د پارک + د سواری اسانتیاوې شتون لري (تازه معلومات پدې **www.vvt.at** کې د 'سروس' لاندې شتون لري):

Oberland:	Imst-Pitztal، Landeck-Zams، St. Anton am Arlberg، Ötztal، په ټیرول (Tirol)، Kematen کې Seefeld
Wipptal/Stubai:	Steinach am Brenner، Matrei am Brenner
Unterland:	Jenbach، Schwaz، په ټیرول (Tirol) کې Hall، Fritzens-Wattens، Kufstein، Pill-Vomperbach، Brixlegg، Rattenberg-Kramsach
Drautal:	Lienz
Brixental:	Kitzbühel، په ټیرول (Tirol) کې St. Johann، Fieberbrunn

د اصلي وخت ښودنه

ډیری لوی ستاپونو ځانګړتیاوې د حقیقي وخت ښودنه کوي سره د بس شمېره، منزل او په دقیقو کې د انتظار وخت.

د شپې لاینرونه

که تاسو وغواړئ چې د جمعې، شنبې یا د عامه رخصتی ورځ څخه مخکې وځي، د شپې لینرونه (په شمول ټرین) د شپې تر شپې به تاسو کور ته ورسي.

ASTI – د انسبرګ بلنه او د شریکي ټکسي کول

TAXI
551719

د بلنه او شریکي ټیکسي کول به د هر IVB له سټاپ څخه تاسو کور ته رسوي. که تاسو تلیفون نه لرئ، نو ستاسو د بس چلونکي به تاسو لپاره بلنه ورکړي.

عملیاتي وختونه: په Hötting او St. Nikolaus کي د 8 بجو تر 6 بجو پوري او د ماسپښین د 11 او 6 بجو ترمنځ په ټول ښار کي. ټېلیفون شمېره: 1719 55 512(0) 43+

ورک شوی ملکیت

که تاسو په ریل یا بس کي څه شی هېر کړو، دلته دا بیرته ترلاسه کولو لپاره یو ښه موقع شتون لري. تاسو په کوم ډول بس کي سفر کوله - په سیمه ایز بس یا په انسبرګ کي یو بس؟ تاسو خپل ورک شوي ملکیت د اړوند پیرودونکی مرکز څخه اخیستلي شي.

IVB Fundbüro (د ورک شوي ملکیت دفتر)

Stainerstraße 2، 6020 KundInnencenter، انسبرګ (Innsbruck)
ټېلیفوب شمېره: 103 07 53 512(0) 43+
د پرانیستلو وخت: دوشنبه – جمعه- پنجشنبه د سحر 7:30 – ماسپښین 4 بجو او په جمعه د سحر 7:30 – د ماسپشنن پوری

د پوسټېس خدماتو شمېره

ټېلیفوب شمېره: 390390 512(0) 43+

د ÖBB ورک شوي ملکیت دفتر

د تودي کرښي له لاري اړیکي: 22 2 22 93000 1(0) 43+

د نورو ترانسپورت شرکتونو لپاره د اړیکي معلوماتو په اړوند مهال ویش کي یا د VVT پیرودونکي مرکز څخه پدي 561616 512(0) 43+کي شتون لري.

سپاره سپي

کله چي په ریل کي سفر کوي، یو ټکټ دي باید د هر یو سپي لپاره وپلورل شي کم چي د پالتو ځناورو په وسایطو یا بکسونو کي نه لیږدول کیږي. ټول سپي به وړیا سفر د ټاپرول دننه د VVT په ټکټ باندي کوي، مګر دوی باید په هر وخت کي به یوه خولي وربوز اغوستي وي (د اجازي سره د مرستي سپو پرته). لطفاً باوري کړئ چي ستاسو سپي د نورو مسافرینو په وړاندي خنډ نه کوي. د ټرانسپورت شرکت څخه د ګاډي حالت په پوښتنه کي باید وساتلي شي.

© iStock.com/GlobalP

بایسکل چلول– د روغتیایي انتخاب، د IVB، VVT او ÖBB او پوستپس لخوا ملاتړ شوی!

د بایسکل چلولو ټرانسپورټ

که چیرې دا د بایسکلونه لیږدولو لپاره ممکنه وي، دوی به د VVT بس لارې وړیا ورسولې شي. ستاسو بایک د خوندي کولو لپاره د هر ډول موجوده وسایل به باید کار واخیستل شي. له بده مرغه، دا ناممکن کار دی چې دا ډاډ ترلاسه شي چې دا بایسکلونه لیږدول کیدی شي او ډرایور دا ویلی چې آیا بایسکلونه به سواره اخیستل کیدی شي. په ټرینونو کې د بایسکل ترانسپورت د اضافي چارج تابع دی او اړوند ټکټونه د ټکټ ماشین څخه به اخیستل کیږي. که څه هم د Suburban/ سوبربان S-Bahn ریلونه او سیمه ایز REX ریلونه د بایسکلونو لپاره د خوندیتوب نیوکه اړتیا نه لري، دا په نورو ریلونو کې اړین دي.

ستیټرډ انسبرګ

Stadtrad Innsbruck

په انسبرګ کې، تاسو د IVB ' ستیټرډ' (د ښار موټرسایکل) په کرایه اخیستلې شي. یو ځل چې تاسو وړیا ثبتونه/رجسټریشن بشپړه کړې، نو تاسو د فیس لپاره د ښار بایکونو ګمارلو توان لرئ. د نورو معلوماتو لپاره، پډې **stadtrad.ivb.at**. وګورئ

د مختلفو کلتورونو څخه د ښځو لپاره د سایکل چلولو کورسونه

د مختلفو کلتورونو څخه د ښځو لپاره د سایکل چلولو کورسونه د لیوالتیا ښاروالیو او د ځایي سازمانونو سره په همکارۍ د کلمابندنس ټیرول لخوا وړیا چمتو کیږي. د سایکل چلولو کورسونه د هغه ښځو په منځ کې د بې ثباتۍ یا اندیښنې کمولو موخه ده چې چا هیڅکله سایکل نه وه یا هیڅکله یې د اوږدې مودې لپاره نه وي چلولی. د معلوماتو لپاره، اړیکه: کلمابندنس ټیرول (Tirol)، Anichstraße 34، 6020 انسبرګ؛ ټیلیفون شمېره: 583558-0 (0)512 43+؛ د فاکس توسیع: 20-؛ اې میل: tirol@klimabuendnis.at

قانوني خبرتيا

د رسنيو څښتن او خپرونکی: کلمبادنس، ټېرول، مولرستېب 7, 6020 انسبرک / **د محتوياتو لپاره مسوليت لری:** Andrä Stigge، اداري رئيس، د د اقليم اتحاد ټاېرول / **ګرافيک ډيزاين:** Christian Waha and Elke Puchleitner، انسبرک

په انګليسي او بين المللی کلتور مشوره ژباړه: www.sprachdienstleister.at / چاپ: Druckerei Pircher GmbH, Ötztal-Bahnhof

د آستريا د چاپيريال ساتنې لېبل شمېره. 794 او د اروپايي ټولنې چاپيريال ساتنې لېبل لارښوودنو سره سم، د طبيعي نباتاتو رنګونو څخه په کار اخيستنې سره د دوام ور او چاپيريال ساتنې ته په پام سم چاپ شوی

www.mobilitaetohnebarrieren.at

د ارویایی سیمه ایز پرمختیایی بودیجی لخوا تمویل شوی.

د 'خندونو پرته ګرځیدنه' یو ګډه پروژه ده چې د
Klimabündnis Tirol، Ökoinstitut Alto Adige، د ټیرول
ولایت، او اتونومس د Alto Adige ولایت لخوا چلولی کیږي. دا د د اروپا فنډ
د سیمه ییزو پراختیا لپاره 'Interreg IV A' د Italy - اسټریا ' لخوا تمویل شوی ده او د
ټیرول د سیمه ییز سیالیتوب د زیاتولو لپاره د 2007-2013 'د
تنوع له پیاورتیا' پروګرام برخه ده.